# د دِين د مالي خِدمت

# فضائل

31-October-2024




هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 31 اکتوبر کال 2024ء (27 ربيعُ الآخر، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د دِين د مالي خِدمت فضائل

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د طالبِ عِلم د مالي خِدمت فضيلت
- ـــيو نا اشنا تجارت
- ـــ د يو پهٔ بدله کښې 20لاکه
- ـــ د ټولو نه طاقتور څيز

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف** (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وکړو)

# د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، پهٔ صفحه: 7، حديثِ پاک نمبر: 7 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنِّیْ رَاَيْتُ الْبَارِحَةَ عَجَبًا وَرَاَيْتُ رَجُلًا مِنْ اُمَّتِیْ يَزْحَفُ عَلَى الصِّرَاطِ مَرَّةً وَيَحْبُوْ مَرَّةً فَجَاءَتْهُ صَلَاتُهُ عَلَيَّ فَاَخَذَتْ بِيَدِهٖ فَاَقَامَتْهُ عَلَى الصِّرَاطِ حَتّٰى جَاوَزَ۔**[1]

**ترجمه**: ما تيره شپهٔ عجيبه واقعه وليدله: زما يو اُمَّتي پهٔ پل صراط باندې کله پرِ مخې او کله پهٔ زنګونانو باندې روان وو، پهٔ دې کښې هغه دُرُود راغلو کوم چې هغهٔ پهٔ ما باندې وئيلے وو، هغه درود پاک هغه د لاسه ونيولو او پهٔ پل صراط باندې يې ودرولو تر دې پورې چې هغهٔ پهٔ پل صراط باندې پورې وَتلو۔

**شرحِ حديث**: دُرُودِ پاک هغهٔ پهٔ پل صراط باندې واړولو او جنَّت ته يې بوتللو۔ [2]

سَلِّم سَلِّم کی ڈھارس سے | پُل پر ہم کو چلاتے یہ ہیں

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1 ...معجم کبیر 282/25، حدیث: 39 ملتقطاً۔
2 ...التیسیر بشرح جامع الصغیر 370/1۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# 18 کسان مسلمانان شول

حضرت محمد بن جَرِير رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: مونږه يو څو دوستان پهٔ شريکه د عِلمِ دِين زده کولو د پاره پهٔ سفر باندې روان شو۔ يو ښار ته ورسيدلو، هلته پهٔ عِلمِ دِين زده کولو کښې مصروفه شو۔ څهٔ موده مو دلته تيره کړله، پهٔ دغه وخت کښې زمونږ سره خرچه ختمه شوه۔ مونږه دوستانو اراده وکړه چې راځئ چې واپس کور ته لاړ شو (خرچه به راواخلو او واپس به راځو)۔ اوس لا مونږه اراده کوله چې يو غير مسلمه زمونږ خوا له راغلو، هغهٔ مونږ ټولو له درې درې درهمې راکړې! لږه خرچه راغله۔ د دې نه پس هغهٔ مونږ له 40 ځله درهمې راکړې! مونږ د هغهٔ نه پوښتنه وکړه چې تهٔ خو مسلمان نهٔ يې، تهٔ مونږ له دا رقم ولې راکوې؟ هغهٔ وه وئيل: ما پهٔ تورات شريف کښې لوستلي دي چې د ټولو نه افضله صدقه هُغه ده کومه چې د دِين طالبِ عِلم له ورکړے شي۔ دلته (يعنې پهٔ تورات والؤ کښې) خو څوک هم داسې پهٔ عِلمِ دِين زده کولو کښې مصروف نه دے، ځکه

---

[1] ...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

چې کله ما تاسو پهٔ عِلمِ دِين زده کولو کښې مصروفه وليدئ نو هُم پهٔ تاسو باندې مې خرچ کړل۔

حضرت محمد بن جرير رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي:دا واقعه تيره شوه۔ د دې نه پس مونږه دوستان د حج د پاره مکې مبارکې ته حاضر شو، چې وه مو کتل نو هٔغه غير مسلمه د کعبې شريفې نه ګير چاپيره طواف کوي۔ مونږ پهٔ حيرانتيا سره پوښتنه وکړه: تهٔ خو غير مسلمه وې، اِسلام دې څنګه قبول کړو؟ هغهٔ وه وئيل: زما بخت رابيدار شو، پهٔ خوب کښې د **الله** پاک محبوب، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: **تا پهٔ طالبِ علمانو باندې خرچه اوکړه ، د دې پهٔ برکت الله پاک تا ته د اِسلام توفيق درکړے دے۔**

بس هم د دې ځائے نه زما بخت رابيدار شو او ما هم هٔغه وخت (پهٔ خوب کښې) د **الله** پاک د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ لاس مبارک باندې اِسلام قبول کړو۔ نور کرم دا وشو چې زما پهٔ کور کښې 17 ګسان وو، هٔغه ښپهٔ د ټولو پهٔ خوب کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، ټولو کلمه وه وئيله او مسلمانان شول۔ [1]

دو عالم صدقہ پاتے ہیں مرے سرکار کے دَر کا | اسی سرکار سے ملتا ہے جو کچھ ہے مقدَّر کا
بڑے دَربار میں پہنچایا مجھ کو میری قسمت نے | میں صدقے جاؤں کیا کہنا مرے اَچھے مقدَّر کا(2)

## د عِلمِ دِين د طالبِ عِلم د مالي خِدمت کولو فضيلت

سُبۡحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** خومره نا اشنا شان دے۔ د صدقې کولو ډير فضائل دي، د **الله** پاک پهٔ لار کښې د خرچ کولو ډير فضائل دي خو په خاص طور ❀

[1] (حکایات وقصص،ص:۲۰۱)

[2] ...سامان بخشش، صفحہ:50۔

ځوک چې د دِین په خِدمت کښې مصروف دي ❀ ځوک چې په عِلمِ دِین زده کولو کښې مصروف دي ❀ په ښودلو کښې مصروف دي، په هغوئي باندې صدقه کول، د هغوئي مالي خِدمت کول، د دې نا اشنا شان دے- په دریمه سیپاره، سوره بقره کښې د صدقې او د خیرات احکام، د دې فضائل، په دې باره کښې تعلیمات په تفصیل سره ذِکر کړے شوي دي، بیا دا صدقه او خیرات چا له ورکول دي، مالي خِدمت د چا کول دي؟ د دې نور ډیر مَصارِف (د خرچ کولو ځایونه) دي خو په دریمه سیپاره کښې د دې یو خاص مَصرَف (په کوم ځائے کښې چې خرچ کول پکار دي هغه) **اللّٰه** پاک ذِکر کړو، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| لِلۡفُقَرَآءِ الَّذِیۡنَ اُحۡصِرُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ لَا یَسۡتَطِیۡعُوۡنَ ضَرۡبًا فِی الۡاَرۡضِ ۫ (پارہ:3،سورۂبقرہ:273) | ترجمۂ کنزُ العِرفان: د هُغه فقیرانو د پاره کوم چې د الله په لاره کښې ایسار کړے شول، هغوئي په زمکه کښې نه شي ګرځیدلے، - |

په تفسیر صراط الجنان کښې دي: دا آیت مبارک د صُفّه والؤ په حق کښې نازل شو، د دې حضراتو شمیره 400 ته نزدې وه ❀ دوئي هجرت کړے وو او مدینے منورې ته راغلي وو ❀ دلته نۀ د دوئي کور وو ❀ نۀ قوم قبیله وه ❀ دوئي به ټول وخت د **اللّٰه** پاک په عبادت کښې تیرولو ❀ د دوئي هُم دوه کارونه وو: (1): د شپې به یې عِلم دِین زده کولو (2): د ورځې به یې د دِین خدمت کولو، نو **اللّٰه** پاک وفرمائیل: **د صدقې او خیرات او مالي خِدمت بهترین مَصرَف دا د صُفّه والا دي، چا چې خپل ځانونه د دِین د خدمت د پاره، د عِلمِ دِین زده کولو، ښودلو د پاره وقف کړے دے-**

علمائے کرام فرمائي: هُغه مشائِخ ❀ هُغه علمائے کرام ❀ د عِلمِ دِین طالبِ علمان ❀ هُغه مُبَلِّغِین چا چې خپل ځان د دِین د خِدمت د پاره وقف کړےوي ، هغوئي په دِیني کارونو کښې دومره مصروفه ویچې د حلال رزق ګټلو د پاره ورته وخت نه

میلاؤیرېي، دا هم د اهل صُفَّه په صف کښې شامل دي- لکه څنګه چې **الله** پاک په خاص طور د اهل صُفَّه د مالي خِدمت حکم کړے دے، هُم دغه شان ددي وخت عاشقانِ رسول څوک چې پۀ عِلمِ دِین حاصلولو کښې مصروف دي، د هغوئي مالي خِدمت هم ضروري دے د پاره د دې چې دوئي ښه د زړۀ د اِخلاصه د دِین پۀ خِدمت کښې مصروف پاتې شي-

## پۀ خوب کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدار سعادت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** کوم خلق چې د دِینِ اِسلام پۀ خدمت کښې مصروف دي، د هغوئي د مالي خِدمت کولو یو فضیلت دا هم دے چې څوک دا سعادت حاصلوي، د هغۀ نه محبوبِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحالیږي- مونږه واقعه واوریدله چې بنده مسلمان نه وو، هغۀ د عِلمِ دِین د طالبِ علمانو مالي خِدمت وکړو، د دې پۀ برکت هغۀ او د هغۀ د کور 17 کسانو ته پۀ خوب کښې محبوبِ ذیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل دیدار هم عطا کړو او کلمه یې ورته وه وئیله او د خپل رحمت پۀ لمنه کښې یې ځائے هم ورکړو-

**سُبْحٰنَ الله!** چې مونږه هم دا سعادت حاصل کړو، د هغوئي کرم څۀ لرې نه دے، څۀ پته لګي چې زمونږه هم بخت رابیدار شي، چې کله مونږه اوده شو، د سر سترګې مو پټې شي او د زړۀ سترګې مو وغړیږي، څۀ پته لګي! زمونږه هم پۀ خوب کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدار سعادت نصیب شي-

## پۀ محمودِ غزنوي باندې کرم وشو

**پۀ کتابونو کښې لیکلي دي:** سلطان محمودِ غزنوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څوک چې د خپل وخت ډېر لوئي سلطان او عاشقِ رسول تیر شوے دے- هغوئي د درې خبرو معلومولو پۀ کوشش

کښې وو **(1)**:ورومبۍ خبره دا وه چې دا حديثِ پاک: اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ (يعني عالمان د نبيانو وارثان دي)- د دې نه مراد څوک دي؟ **(2)**:دويمه خبره دا وه چې آيا زما د پلار نوم هُم سُبکتګِين دے، که زۀ د بَل چا زوي يم **(3)**:دريمه خبره دا چې آيا زما بخښنه به وشي کۀ نه؟

سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه شپه د خپل لښکر سره چرته روان وو- يو خادِمِ شمع دان (يعني د رڼا سامان) اخستے وو او مخکښې مخکښې ترينه روان وو-

رڼا يې وليده نو يو کس د کور نه بهر را اُووتو او د شمع دان پۀ رڼا کښې يې کتاب لوستل شروع کړو. سلطا پۀ زړه کښې وه وئيل چې دا څوک عالِمِ دِين دے او د هغوئي پۀ احترام کښې يې لښکر ودرولو د پاره د دې چې هغه پۀ اطمينان سره د کتاب مطاله وکړي. مطالعه ختميدلو نه پس چې هغه صاحب کور ته واپس تشريف يوړلو نو سلطان سره د خپل لښکره د هُغه ځائے نه روان شو.

پۀ هُم هُغه شپه چې کله سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوده شو نو بخت يې رابيدار شو، پۀ خوب کښې يې د دوارو جهانونو تاجدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او قربان شم! محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف يوه جمله وه وئيله، اوئې فرمائيل: **اے د ناصِرُ الدِّين سَبُکتِګِين زويه! زما د وارِث (يعني د عالم دين ) د خِدمت په وجه الله پاک تۀ او بخښلې -**

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږ د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ـــ!! اَلْحَمْدُ لِله! د **الله** پاک پۀ فضل سره زمونږه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژوندے هم دے، د خپل اُمَّت د احوالو بلکې د زړۀ د خيالونو نه هُم خبر دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا هم معلومه وه چې محمود غزنوي د يو عالم دين خدمت کړے دے او دا ورته هم معلومه وه چې د محمود غزنوي پۀ زړۀ کښې د درې خبرو د پيژندګلو تالاش دے، نو هُم

پۀ یوه مبارکه جمله کښې یې درې واړه خبرې حل کړې ، **(1):** اوئې فرمائيل: اے د سُبکتګِين زويه! د دې نه سلطان ته پته ولګیده چې زۀ واقعي چې د **سَبُکتِګين** زوې يم- **(2):** بيا يې وفرمائيل: تا زما د وارث خِدمت وکړو- د دې نه سلطان ته د ښتينې عقيدو والا عاشقان رسول علماؤ پته ولګيده - **(3):** بيا يې وفرمائيل: **اللّٰه** پاک تۀ اوبخښلې د دې نه هغۀ ته معلومه شوه چې هغه بخښلے شوے دے -

اُمّت کے حال سے وہ آگاہ ہر گھڑی ہیں | خوابوں میں آرہے ہیں، بگڑی بنا رہے ہیں

سُبۡحٰنَ اللّٰه! چې کوم خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړې او هم داسې بے مثاله کلام فرمائي، بيا به د هغوئي د کلامِ ذيشان څۀ شان وي---!! اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکي:

مَیں نثار تیرے کلام پر ملی یُوں تو کس کو زباں نہیں
وہ سخن ہے جس میں سخن نہ ہو، وہ بیاں ہیں جس کا بیاں نہیں

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له هم پکار دي چې د دِين مالي خدمت کوو- څۀ پته لګي چې پۀ مونږ باندې هم کرم وشي! او که پۀ دُنيا کښې داسې اونشي نو اخرت خو راتلونکے دے، قبر ته خو هُم کوزيدل دي، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! پۀ قبر او اخرت کښې به د دې اجر او ثواب نصيب شي-

## د وخت حاکِم د عِلمِ دِين د طالبِ علمانو نه بخښنه وغوښتله

حضرت ابو الحسن فَقِيه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: مونږ به د مشهور مُحَدِّث حضرت حسن بن سفيان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ خدمت کښې حاضر وو، يو ځل هغوئي وفرمائيل: کله چې زما د عِلمِ دِين زده کولو سره شوق شو نو هُغه وخت زۀ ځلمے ووم، يو څو ملګرې پۀ شريکه د عِلمِ دِين زده کولو د پاره د مِصر طرف ته روان شو، مونږه استاذ لټولو، د ډير لټون نه پس

مونږه د هغه زماني ډیر لوئي مُحَدِّث صاحب له لا ړو، هغهٔ به مونږ ته روزانه حدیثونه لیکل۔

**مونږه ټول دوستان به پهٔ** یو جومات کښې اوسیدو ❁ مسافري وه ❁ غریبي وه ❁ تنګ دستي وه ❁ څوک زمونږ د تکلیفونو نه خبر نهٔ وو ❁ مونږ هم چرې چا ته خپل تکلیفونه نه وو بیان کړي۔ یو ځل داسې وشول چې زمونږ سره څومره پیسې وې، ټولې ختمې شوې، لوږه شروع شوه، تر دې پورې چې مونږه درې ورځې او درې شپې پهٔ نهره تیرې کړلې، د لوږې پهٔ وجه کمزوري زیاته شوه، ګرځیدل راته هم ګران شول۔

حضرت حَسَن بن سفیان رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه فرمائي: د دې لوږې پهٔ حالت کښې دریمه ورځ هم راغله، بیا خو کمزوري انتها ته رسیدلې وه، زهٔ د جومات یو ګوټ ته لا ړم او نمونځ مې شروع کړو، د نمونځ نه پس مې دعا وکړه، لا د دُعا نه فارغ شوے هم نه ووم چې جومات ته یو ځلمے داخل شو، هغهٔ پوښتنه وکړه: حَسَن بن سفیان څوک دے؟ ما وه وئیل: زهٔ یم۔ ځلمي وه وئیل: زمونږ د ښار حاکم طُولُون ستاسو د پاره خوراک رالیږلے دے۔

**ما پهٔ حیرانتیا سره پوښتنه وکړه:** حاکِم ته زمونږه پهٔ باره کښې څنګه پته ولګیده؟ هغه ځلمي وه وئیل: زهٔ خادِم یم، نن سحر زهٔ زمونږه حاکِم راوغوښتم او اوئې وئیل: د فلانکی محلې فلانکي جومات ته لا ړ شه، هلته د دِین طالبِ عِلمان دي، هغوئي د دریو ورځو او دریو شپو راسې نهر دي، هغوئي له خوراک او څهٔ رقم هم ورکړه! او زما د طرف نه ورته معذرت هم وکړه چې زهٔ د هغوئي د حالت نه خبر شوے نهٔ ووم، سبا به زهٔ پخپله د هغوئي بارګاه ته حاضریږم او معافي به ترینه غواړم۔

هغه ځلمے وائي: د ښار د حاکِم دا خبرې چې مې واوریدلې نو زهٔ حیران شوم، ما پوښتنه وکړه: جناب! اخر د دې عنایت وجه څهٔ ده؟ حاکِم وه وئیل: د شپې چې کله زهٔ پهٔ بستره باندې سملاستم، لا مې سترګې ورغلې وې چې ما خوب ولیدلو: پهٔ اَس باندې

يو ګس ناست دے، د هغۀ پۀ لاس کښې نيزه ده، هغۀ د نيزې سوکه زما پۀ خوا کښې کېښودله او اوئې وئيل: فوراً پاڅه او د حسن بن سفيان او د هغۀ د ملګرو مدد وکړه! هغوئې د عِلمِ دِين د لارې مسافر دي، د درېو ورځو او درېو شپو نه نهر دي، ستا د ښار پۀ فلانکي جومات کښې قيام کوي- حاکِم وائي: ما پۀ آس سور د هُغه ګس نه پوښتنه وکړه: تاسو څوک يئ؟ اوئې وئيل: **زۀ د الله پاک يوه فرښته يم او تا د عِلمِ دِين د طالبِ علمانو د دې حالت نه د خبرولو د پاره راغلے يم**، اوس مۀ ناوخته کوه! فوراً د هغوئې د خدمت کولو انتظام وکړه! د دومره وئيلو نه پس هُغه پۀ آس سور ګس زما د نظر نه پناه شو- (1)

## د علمائے کرامو خدمت

حضرت عبد الله بن مبارک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه (څوک چې د امامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خاص شاګرد او د فقه حنفي پۀامامانوکښې دے) د عِلمِ والؤ سره به يې په خاص طور نيکي کوله، هغوئې ته عرض وکړے شو: تاسو د ټولو خلقو سره داسې معامله ولې نۀ کوئ؟ اوئې فرمائيل: زۀ د انبياؤ (او د صحابۀ کرامو نه) پس د علمائے کرامو نه علاوه د چا مقام اوچت نۀ ګڼم، که د يو عالِم پام هم د خپلو حاجتونو پۀ وجه بدل شي نو هغۀ به په صحيح طور د دِين خدمت ونکړے شي او دِيني معاملو ته به صحيح پام ونکړے شي- ځکه هغوئې د عِلمي خدمت د پاره فارغ ساتل افضل دي-

## يو نا اشنا تجارت

**الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

1... عُيُون الحکايات، حصہ اول، صفحہ:181تا184 خلاصۃً۔

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا هَلۡ اَدُلُّكُمۡ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنۡجِيۡكُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ اَلِيۡمٍ (۱۰) (سيپارو:28، سورة صف:10) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! آيا زۀ تاسو ته د داسې تجارت رهنمائي وکړم چې هغه تاسو د دردناک عذاب نه بچ کړي- |

دلته وګورئ! **الله** پاک **تجارت** وه وئيلو- تجارت څۀ وي؟ اخستو او خرڅولو ته تجارت وئيلے شي- د څۀ ورکولو او پۀ بدله کښې څۀ اخستو ته تجارت وئيلے شي- دا هم څومره کرم دے چې **الله** پاک زمونږ سره معاملې ته تجارت وفرمائيلو- زمونږ سره خپل څۀ دي---؟ ❀ مونږه **الله** پاک پيدا کړو ❀ لاسونه راله **الله** پاک راکړل ❀ مال راله **الله** پاک راکړو ❀ توفيق راته **الله** پاک راعطا کړو ❀ هر څۀ خو د **الله** پاک دي ❀ هُم هغۀ راکړي دي، بيا تجارت څنګه---؟ خو کرم يې وفرمائيلو، ارشاد وشو: اے ايمان والؤ! تاسو ته داسې تجارت وښايم، کوم چې به تاسو د درديدونکي عذاب نه بچ کړي-

اوس واورئ! هُغه نا اشنا تجارت کوم يو دے؟ پۀ هُغه تجارت کښې مونږ ته څۀ کول دي؟ اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَتُجَاهِدُوۡنَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ بِاَمۡوَالِكُمۡ وَاَنۡفُسِكُمۡ ؕ (سيپارو:28،صف:11) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: تاسو پۀ الله او د هغۀ پۀ رسول ايمان وساتئ او د الله پۀ لاره کښې د خپلو مالونو او خپلو ځانونو پۀ ذريعه جهاد وکړئ- |

يعني پۀ دې نا اشنا تجارت کښې مونږ ته دوه کارونه کول دي: **(1):** پۀ الله او پۀ رسول باندې ايمان راوړل دي- دا نعمت خو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مونږ ته حاصل دے- د **الله** پاک پۀ فضل

باندې مونږ پهٔ **الله** پاک باندې هم ايمان لرو، د هغهٔ پهٔ خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې هم ايمان لرو، **الله** پاک دې زمونږه ايمان سلامت وساتي- **(2):** دويم کار څهٔ کول دي؟ د دِين مالي او ځاني خِدمت کول دي، څومره چې کيدے شي د دِين د خِدمت د پاره وخت هم ورکول دي او چې څومره کيدے شي د دِين مالي خِدمت هم کول دي-

دلته دا هم يوه ښکلې او ايمان تازه کوونکې خبره ده- مونږ چې مارکيټ ته لاړ شو نو د څيزونو قيمت مقرر وي، دا څيزونه پهٔ څو دي؟ پهٔ 1000 روپۍ- دا څيز پهٔ څو دے؟ پهٔ 1500 روپۍ- بيا چې د چا سره زر، پينځلس سوه روپۍ وي، هغهٔ خو به څيز واخلي، د چا سره چې دومره رقم نشته، سل روپۍ هم کمې دي نو هغهٔ هُم هُغه څيز ته صرف پهٔ ارماني سترګو کتلے شي- د **الله** پاک کرم ته وګورئ! وړومبے خو يـې دې ته تجارت وفرمائيلو، بيا يـې د قيمت څهٔ قيد هم اونه لګولو، د چا پهٔ جيب کښې چې لس روپۍ دي نو هغهٔ پهٔ لس روپۍ دا تجارت کولے شي، د چا سره چې سل روپۍ دي نو هغهٔ پهٔ سل روپۍ باندې دا تجارت کولے شي، د چا چې څومره توفيق، څومره همت، څومره وَس وي هُم پهٔ هُغه همره خِدمت دا تجارت کولے شي-

ښه---!! بيا چې مونږه دا تجارت وکړو، مونږ د دِين مالي او ځاني خِدمت وکړو نو پهٔ بدله کښې به څهٔ ميلاؤيږي؟ درې انعامونه به ميلاؤيږي:

## د نا اشنا تجارت وړومبے اِنعام

اوئې فرمائيل:

يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ

(سيپارو:28، سورة صف:12)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغهٔ به ستاسو ګناهونه اوبخښي-

دا وړومبے انعام دے، کوم بنده چې دا نا اشنا تجارت وکړي يعنې د دِينِ اِسلام مالي او

ځاني خِدمت وکړي، هغۀ ته به وړومبے انعام دا میلاؤیږي چې د هغۀ ګناهونه به معاف کولے شي۔

دا ډیر لوئي انعام دے۔ د ګناه معاف کیدو مطلب دے د دوزخ نه ازادي میلاؤیدل۔ د قیامت پۀ ورځ باندې چې به کله د **اللّٰه** پاک پۀ بارګاه کښې حاضري کیږي، آه! ❁ هُغه 50 زره کاله اوږده ورځ ❁ د قیامت ګرمي ❁ تله به کیښودے شي ❁ د یو یو عمل حساب به اخستے کیږي ❁ هُغه وخت که پۀ اعمال نامه کښې ګناه راوځي، د هُغه ګناهونو معافي میلاؤ نشي، د ګناهونو چاپېرے درونډ شو نو آه! دوزخ ته تللے شو ❁ هُغه عظیم وور---!! کوم چې به هډوکي هم سوزوي ❁ هُغه دوزخ چرته چې به د اوښانو د غړو پۀ شان غټ غټ لړمانان وي ❁ هُغه دوزخ چرته چې به ډیر سخت عذابونه وي، که د ګناهونو معافي میلاؤ نه شوه نو پۀ هُغه دوزخ کښې سوزیدے او پۀ عذابونو کښې نیولے کیدے هم شو خو قربان شم! اوئې فرمائیل: دا نا اشنا تجارت وکړئ! د دِین ځاني او مالي خِدمت وکړئ! ستاسو ګناهونه به اوبخښلے شي۔ چې کله ګناهونه اوبخښلے شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دوزخ نه به نجات هم حاصل شي او جنَّت ته به داخلیدل هم نصیب شي۔

## د نا اشنا تجارت دویم انعام

د دې نا اشنا تجارت دویم انعام څۀ دے؟ اوئې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَ یُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَ مَسٰكِنَ طَیِّبَةً فِیْ جَنّٰتِ عَدْنٍؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُۙ﴿۱۲﴾<br>(سیپارہ:28،سورۃ صف:12) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او تاسو به هُغه باغونو کښې داخل کړي چې د هغې نه لاندې نهرونه بهیږي او د اوسیدلو پاکیزه ځایونو کښې کوم چې د همیشه اوسیدلو باغونو کښې دي، هُم دا ډیره لویه کامیابي ده۔ |

سُبْحٰنَ اللّٰه! هُغه جنَّت چرته چې داسې نعمتونه دي ❁ کوم چې نۀ چا لیدلي دي ❁ نۀ

چا اوریدلي دي ❀ نهٔ د چا پهٔ زړهٔ کښې د هغې خیال تیر شوے دے ❀ هٰغه جنَّت د کوم ځائے چې یو څیز د نوک برابر پهٔ دې دُنیا کښې ظاهر شي نو اسمان او زمکه به روښانه شي ❀ هٰغه جنَّت د کوم د یوې کوړې (یعنې چابک) کېښودو ځائے چې د ټولې دُنیا او د دې د ټولو نعمتونو نه بهتر دے ❀ هٰغه جنَّت د کوم دیوالونه چې د سرو زرو او سپینو زرو دي، خَټه یې د مشکو، زمکه یې د زعفرانو، کاڼي یې د ملغلرو او د یاقوتو دي ❀ هٰغه جنَّت د کوم ټول نعمتونه چې د همیشه همیشه د پاره پاتې کیدونکي دي، پهٔ دې باندې چرې هم فنا نشته- کوم بنده چې دا نا اشنا تجارت وکړي یعنې د دِین ځاني او مالي خِدمت وکړي، ارشاد یې وفرمائیلو: **هغهٔ ته به پهٔ جنَّتونو کښې هم اعلیٰ جنَّت یعنې پهٔ جنَّتِ عدن کښې مقام عطا کولے شي-**

## د نا اشنا تجارت دریم انعام

د دې نا اشنا تجارت دریم نعمت د کوم پهٔ باره کښې چې ارشاد وفرمائیلے شو:

| | |
|---|---|
| وَ اُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا ؕ (سیپارہ:28،سورۃ صف:13) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او یو بل (نعمت به تاسو ته درکوي) کوم چې تاسو خوښوئ- |

یعنې د دې نا اشنا تجارت دریم اِنعَام داسې دے، د کوم طرف ته چې زړهٔ زر مائِل شي، هٰغه انعام څهٔ دے؟ اوئې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ فَتْحٌ قَرِیْبٌ ؕ (سیپارہ:28،سورۃ صف:13) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: (هغه) د الله مدد او زر راتلونکې فتح (ده) |

یعنې د هٰغه نا اشنا تجارت دریم اِنعام دا دے چې پهٔ دُنیا کښې به د **الله** پاک خاص مدد هم نصیب کیږي او ډیر زر به تاسو ته کامیابي هم عطا کولے شي-

سُبْحٰنَ الله! خورو او محترمو اِسلامي ورونو! غور وکړئ! صِرف دوه کارونه کول دي (1): اِيمان- دا اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ ته د مخکښې نه حاصل دے (2): د دِين څاني او مالي خِدمت کول دي- پۀ بدله کښې چې به څۀ ميلاؤيږي، پۀ هغې کښې باقي څۀ پاتې دي؟ ❀ پۀ دُنيا کښې به د **الله** پاک مدد هم ميلاؤ شي ❀ کاميابياني به هم نصيب شي ❀ که د اخرت خبره وکړے شي نو ګناهونه به هم معاف کړے شي او ❀ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ جنَّت کښې به داخله هم عطا کړے شي-

کاش چې زمونږه توفيق نصيب شي چې مونږه د دِين څاني او مالي خدمت کوونکي جوړ شو- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

## د دِين مالي خِدمت ضرور وکړئ!

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له هم پکار دي چې د دِين مالي خِدمت وکړو- دا صرف د ذِهن جوړولو خبره ده، ګني نو د دِين پۀ لاره کښې پۀ مال ورکولو انسان نۀ غريب کيږي بلکې چې څوک د **الله** پاک پۀ لاره کښې مال خرچ کوي، **الله** پاک هغه څو چنده زياتوي او هغۀ ته يې عطا کوي- پۀ دويمه سيپاره، سُورۀ بَقَرَه، آيت: 245 کښې ارشاد دے:

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً

(سيپاره:2، سورة بقرة، 245)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: څوک شته چې الله له ښه قرض ورکړي نو الله به د هغۀ د پاره هٰغه قرض پۀ ډير چنده زيات کړي-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلې خبره ده! مال چا راکړے دے؟ **الله** پاک- سرکار غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اَنْتُمْ وُكَلَاءُ عَلٰى هٰذِهِ الْاَمْوَال تاسو د دې مال وکيلان يئ-[1]

1... جلاءالخواطر، مجلس: حقوق الفقراء، صفحه:110-

د مثال په طور مونږ چا له 200 روپۍ ورکړو او ورته وه وايو چې د بازار نه فلانکے څيز راوړه! نو هُغه کَس چا له چې مونږه پيسې ورکړې دي، دا د 200 روپو مالِک نه دے، وکيل دے، هُغه څيز راوړے شي کوم چې ورته مونږ ياد کړے وي، دغه شان مونږ ټول پهٔ دُنيا کښې د مال او دولت مالِکان نه يو بلکې وکيلان يو، اصلي مالک **اللّٰه** پاک دے، د وکيل نه چې کوم مال واپس اخستے شي هغه قرضه نه وي، هغه خو د مالِک څيز وي کوم چې هغهٔ ته واپس کولے شي خو د **اللّٰه** پاک عنايت، د هغهٔ رحمت او عطا ته وګورئ! ارشاد وشو:

| | |
|---|---|
| مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: څوک شته چې **اللّٰه** له ښه قرض ورکړي. |

عُلمائے کرام فرمائي: پهٔ دې ځائے کښې د **اللّٰه** پاک پهٔ لاره کښې پهٔ اِخلاص سره مال خرچ کولو ته قرض فرمائيلے شوے دے، د دې سره دا خبره پهٔ زړهٔ کښې کښينول مقصد ده چې لکه څنګه قرض ورکوونکے مطمئين وي چې د هغهٔ مال به نهٔ ضائع کيږي او هغهٔ د دې د واپسۍ حق دار دے، هم داسې د **اللّٰه** پاک پهٔ لار کښې خرچ کوونکي ته هم مطمئين کيدل پکار دي چې هغهٔ به د دې خرچ کولو بدله يقيناً مومي او هغه به هم معمولي نهٔ بلکې

| | |
|---|---|
| فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِیْرَةً ؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو **اللّٰه** به د هغهٔ د پاره هُغه قرض پهٔ ډير چنده زيات کړي. |

## د يو په بدله کښې 20 لاکه

حضرت عثمان نَهدي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه تابعي بزرګ دے، هغوئي ته چا وه وئيل چې حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: مؤمِن بنده ته به د يوې نيکۍ په بدله کښې لس لاکهه نيکۍ ميلاوېږي- (يعنې که يوه روپۍ د **الله** پاک په لاره کښې صدقه کړے شي نو په ثواب کښې به دا لس لاکهه چنده وي)- حضرت عثمان نَهدي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مدينے منورې ته حاضر شو او د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه يـې پوښتنه وکړه: آيا تاسو دا ارشاد فرمائيلے دے؟ حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ وفرمائيل: ما دا نۀ دي وئيلي، ما خو وئيلي وو: **الله** پاک مؤمِن بنده ته د يوې نيکۍ په بدله کښې 20 لاکهه چنده عطا کوي- (1)

سُبۡحٰنَ الله! د **الله** پاک څومره کرم دے، مال هم د هغۀ دے، راکړے هم هغۀ دے، که مونږ يـې د هغۀ په لاره کښې خرچ کړو نو مال هم **محفوظ**، ثواب هم داسې چې شميرلے کيدے او حسابيدے نشي-

## ځان په هلاکت کښې مۀ غورځوئ!

اَللّٰهُ اَکۡبَر! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د صدقې په فضيلتونو باندې غور وکړئ! کوم بنده چې د **الله** پاک دطرفه عطا کړے شوے مال هم د **الله** پاک په لاره کښې لګوي، **الله** پاک هغې ته قرض فرمائي او په هغې باندې د څو چنده اَجر وعده هم فرمائي- نو بيا څۀ وجه ده چې مونږه د هغۀ راکړے شوے مال د هغۀ په لاره کښې نه لګوؤ- مونږ له صدقه او خيرات کول پکار دي ، د زړۀ د اِخلاصه پکار دي- په دې کښې هم زمونږه خير دے- **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اَنۡفِقُوۡا فِیۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَلَا تُلۡقُوۡا | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د **الله** په لاره کښې [مال] خرچ کړئ او په خپلو لاسو |

---

1...رُوۡحُ الۡمَعَانِیۡ، پاره:2، تحت الآية:245، جلد:1، صفحه:757-

| | |
|---|---|
| بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ (سیپارہ:2،سورۃ بقرۃ:195) | خپل ځان په هلاکت کښې مه اچوئ- |

يعنې د الله پاک په لاره کښې د خرچ په بندولو سره يا کمولو سره خپل ځان په هلاکت کښې مه غورځوئ- په روايتونو کښې دي: انصار صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُم به صدقه او خيرات کولو، يو کال هغوئي د تنګ دستي [يعنې غريبئ] سره مخ شول نو هغوئي د الله پاک په لاره کښې صدقه او خيرات بند کړو، په دې باندې دا آيت مبارک نازل شو او وفرمائيلے شول چې [1] د الله پاک په لاره کښې دخرچ په بندولو سره خپل ځان په هلاکت کښې مه غورځوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! معلومه شوه: چې د الله پاک په لاره کښې نۀ لګول د هلاکت وجه ده ❁ ظاهره ده چې مونږه صدقه او خيرات نه کوؤ نو په معاشره کښې به غريبي زياتيږي ❁ د غريبانانو د حال د پوښتنې به هيڅوک نه پاتې کيږي او لوږه به زياتيږي ❁ غريبانان به د غريبئ ښکار کيدو سره پخپله د خود کشئ لار خپلوي او داسې زمونږه په معاشره کښې کيږي هم ❁ که چرې مالداره خلق صدقه او خيرات نه کوي نو د جوماتونو نظام به څنګه چليږي؟ ❁ مدرسې به څنګه چليږي؟ ❁ ماشومان به د قرآن او سُنّت تعليم څنګه حاصلوي؟ ❁ زمونږه نسلونو ته به دِين څنګه رسي؟ هم داسې ډير صورتونه دي چې که چرې مونږه خيراتونه او صدقې پريږدو نو پخپله د هلاکت ښکار کيدے شو-

الله پاک دې مونږ له د زړۀ د اِخلاصه د صدقو او خيراتونو کولو، د الله پاک په راکړے شوي مال کښې د هغۀ په لاره کښې د لګولو سعادت راکړي- راځئ چې د الله پاک په لاره کښې د لګولو فضيلتونه واورو:

---

[1]... تفسیر صراط الجنان، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیر آیت:195، جلد:1، صفحہ:309-310 خلاصۃً۔

## د صدقې کولو سره د فرښتو دعاګانې میلاؤیږي

د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے، فرمائي: د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: داسې هیڅ ورځ نشته چې په هغې کښې بنده سبا کړي او 2 فرښتې راکوزې نه شي په کومو کښې چې یوه وائي: الٰهي! سخي له ډیره ښه بدله ورکړې او بله وائي: الٰهي! کنجوس له بربادي ورکړې۔ (1)

د دې حدیث په شرح کښې د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: یعنې هره ورځ د فرښتو د خُلې نه د سخي د پاره دُعا او د کنجوس د پاره ښیرې ووځي کومې چې یقیناً قبولې دي۔ (2)

## د ټولو نه طاقتور څیز

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** آیا تاسو ته معلومه ده چې په دې دُنیا کښې د ټولو نه طاقتور او مضبوط څیز څهٔ دے؟ **حدیثِ پاک** واورئ! د حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے، د **الله** پاک آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: چې کله **الله** پاک زمکه پیدا کړه نو هغه په خوزیدو شوه نو **الله** پاک په دې باندې غرونه نال کړل د کومو سره چې دا ودریدله، فرښتې د غرونو په مضبوطۍ باندې حیرانې شوې او عرض یې وکړو: ❀ یا **الله** پاکه! آیا تا د غرونو نه هم زیات مضبوط څهٔ مخلوق پیدا کړے دے؟ **الله** پاک وفرمائیل: آؤ! هغه اوسپنه ده۔ ❀ هغوئي عرض وکړو: یا **الله** پاکه! آیا تا د اوسپنې نه هم زیات مضبوط څهٔ مخلوق جوړ کړے دے؟ اوئې فرمائیل: آؤ! هغه وور دے۔ ❀ هغوئي عرض وکړو: یا **الله** پاکه! آیا د وور نه مو هم زیات طاقتور څهٔ مخلوق پیدا کړے دے؟ ارشاد

---

1... بخاری، کتاب الزکاۃ، باب قول اللہ تعالٰی: فاما من اعطی ...الخ، صفحہ:402، حدیث:1442۔
2... مرأۃ المناجیح، جلد:3، صفحہ:69۔

يــې وفرمائيلو: هغه اوبه دي- ❁ هغوئي عرض وکړو: يا **الله** پاکه! آيا څۀ **مخلوق** مو د اوبو نه هم زيات طاقتور پيدا کړے دے؟ ارشاد يــې وفرمائيلو: هغه هوا ده- ❁ هغوئي عرض وکړو: يا **الله** پاکه! آيا د هوا نه مو زيات طاقتور څۀ **مخلوق** پيدا کړے دے؟ **الله** پاک وفرمائيل: آؤ هغه انسان دے چې کله پۀ خپل ښي لاس باندې صدقه ورکړي نو هغه د ګڅ لاس نه پټه کړي-

الله! الله! معلومه شوه چې پۀ دې دُنيا کښې د ټولو نه طاقتور او د ټولو نه مضبوط څيز صدقه ده کومه چې پۀ پټه باندې ورکړے کيږي- د دُنيا د ټولو مضبوطو نه مضبوط څيز هُغه کار نشي کولے کوم کار چې د بنده ورکړے شوې صدقه کوي-

## د دوبي ژوند څنګه بچ شو؟

د حضرت عيسىٰ عَلَيۡهِ السَّلَام پۀ زمانه کښې يو دوبـي وو هغۀ به د خلقو جامې د يو بل سره بدلولې، خلقو حضرت عيسىٰ عَلَيۡهِ السَّلَام ته د هغۀ پۀ باره کښې وه وئيل نو حضرت عيسىٰ عَلَيۡهِ السَّلَام د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې عرض وکړو: يا **الله** پاکه! دا هلاک کړې، يوه ورځ هُغه دوبـي د خپل معمول مطابق ووتلو، د هغۀ سره درې ډوډۍ وې، يو سوالګرے راغلو نو هغۀ يوه ډوډۍ يــې هغۀ له ورکړله، سوالګري ورته دُعا وکړه: **الله** پاک دې تا د اسماني افتونو نه بچ کړي، دوبـي د دُعا نه متاثره شو او هغۀ له يــې يوه بله ډوډۍ هم ورکړه، پۀ دې باندې سوالګري دُعا وکړه: **الله** پاک دې تا د ټولو افتونو نه محفوظ وساتي، هغۀ دريمه ډوډۍ هم ورکړله، پۀ دې باندې سوالګري يوه بله دُعا وکړله چې **الله** پاک دې تا ته د توبې توفيق درعطا کړي- پۀ دغه وخت کښې يو ډير غټ مار د هغۀ د کپړو ګيډۍ ته داخل شوے وو- دوبـي چې کله د کپړو راخستو اراده وکړه نو مار هغۀ له ټک ورکول غوښتل خو يوې فرښتې هُغه مار ته هم هُغه وخت واګې واچول او

دوبي پهٔ سلامتیا سره واپس لا ړو- خلقو حضرت عیسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام ته عرض وکړو: یا رُوحُ الله! هغه دوبـي خو صحیح سلامت واپس راغلو! حضرت عیسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام هغهٔ راوغوښتلو او ورته یـې وفرمائیل: تا څهٔ نیکي کړې ده؟ نو هغهٔ عرض وکړو: ما درې ډوډۍ صدقه کړې دي- بیا حضرت عیسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام د هغه مار نه پوښتنه وکړه: تا دا ولې قتل نه کړو؟ مار عرض وکړو: اے د الله پاک نبي! الله پاک ستاسو دُعا قبوله کړه او زهٔ یـې د دهٔ د هلاکولو د پاره راولیږلم خو چې کله دې دوبـي سوالګري له صدقه ورکړله نو یوه فرښته راغله او ما ته یـې د اوسپنې واګې واچول - خلق پهٔ دې خبره باندې ډیر حیران شول او دوبـي توبه وکړه-

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا دے د صدقے طاقت---!! آیا د دنیا کوم طاقت راغلے تقدیر ورستوکولے شي؟ نه شي ورستو کولے- په صدقه کښې الله پاک داسې طاقت ایښودے دے چې تقدیر هُم ورستوکولےشي، بس شرط دادے چې اخلاص ورسره وي-

میرا ہر عمل بس تیرے واسطے ہو | کر اخلاص ایسا عطا یا الٰہی!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## سحر وختي صدقه ورکوئ!

د حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روایت دے فرمائي: تاجدارِ رسالت، شهنشاه نبوّت صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: سحر وختي صدقه ورکوئ ولې چې بلا د صدقې نه نهٔ شي مخکښې کیدے- [1]

یو کَس د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ پهٔ بارګاه کښې حاضر شو او اوئې وئیل چې زما

---

[1]... سنن کبریٰ للبیہقی، کتاب الزکاۃ، باب فضل من اصبح صائما...الخ، جلد:4، صفحہ:506، حدیث:7831-

زوي د سمندر پهٔ سفر باندې تلے دے تاسو د **الله** پاک نه د هغهٔ د پاره سوال وکړئ نو حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائيل: د هغهٔ د طرف نه صدقه ورکړه- هُغه وخت سمندر پهٔ موجونو وو او جاز ډوبيدو ته نزدې وو، هُغه کَس چې کله د زوي د طرف نه صدقه ورکړه نو دا اواز تر غوږو شو چې اے سورلو! ستاسو د پاره سلامتيا ده، بے شکه **الله** پاک فِديه قبوله کړه- [1]

## د صدقې ورکولو فضيلتونه او ثوابونه

❁ صدقه او خيرات کول زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم سُنّت دے، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د درِ جُود او سخاوت نه به يو سوال کوونکے هم خالي لاسونه نه تللو [2] ❁ صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چې اوبه وور مړ کوي [3] ❁ صدقه د دوزخ د وور نه بچ کوي، پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي څوک چې د **الله** پاک د رضا پهٔ خاطِر صدقه ورکړي نو هُغه صدقه د هغهٔ او د وور ترمينځه پرده جوړيږي [4] ❁ صدقه د **الله** پاک غضب ختموي او بد مرګ دفع (يعني لرې) کوي [5] ❁ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پهٔ صدقه ورکولو کښې تادي کوئ ولې چې بلا د صدقې نه نهٔ شي اوړيدے [6] ❁ صدقه کوونکے به د قيامت پهٔ ورځ د خپلې صدقې پهٔ سورې کښې وي [7] ❁ صدقه د بدۍ 70 دروازې بندوي [8] ❁ صدقه د قبر د ګرمۍ نه بچ کول کوي [1] ❁ د مسلمان صدقه د هغهٔ عمر

---

1…نزہۃ المجالس، باب فضل الصدقہ، صفحہ:14۔
2…فیضانِ سخی سرور، صفحہ:6۔
3…ابنِ ماجہ، کتاب الفتن، باب کف اللسان فی الفتنہ، صفحہ:649، حدیث:3973۔
4…معجمِ کبیر، جلد:10، صفحہ:409، حدیث:20584۔
5…ترمذی، کتاب الزکاۃ، باب ماجاء فی فضل الصدقہ، صفحہ:189، حدیث:664۔
6…مشکاۃ المصابیح، کتاب الزکاۃ، باب الانفاق وکراھیہ…الخ، جز:1، جلد:1، صفحہ:359، حدیث:1887۔
7…سننِ کبری للبیہقی، کتاب الزکاۃ، باب التحریض علی…الخ، جلد:4، صفحہ:379، حدیث:7751۔
8…معجمِ کبیر، جلد:3، صفحہ:148، حدیث:4276۔

زیاتوي [2] ❀ اللّٰه پاک د صدقې په برکت تکبر او فخر لرې کوي [3] ❀ صدقه 70 قِسمه بلاګانې منع کوي په کومو کښې چې د ټولو نه کمه بلا بدن ورانيدل او سپين داغونه دي- [4]

## د دعوتِ اِسلامي دِيني خدمتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي، دا وخت د دعوت د اتياؤ 80 نه په زياتو شعبو کښې ديني فريضې ترسره کوي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❀ د کنزُ الـمدارس بورډ په نوم باندې د دعوتِ اِسلامي خپل تعليمي بورډ دے ❀ تقريباً د **16 زره 500 نه زيات** جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) جوړ کړے شوي دي، په کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (*Specialization*)، د فرض علوم کورسونه کولے شي ❀ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زيات **5 لاکهه 23 زره** ده ❀ د زيات عمر اِسلامي ورونړو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم د تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً د **68 زرو نه زيات** مدارس الـمدينه بالغان و بالغات جوړ کړے شوي دي په کومو کښې چې د لوستونکو شميره تقريبا4لاکه ده❀ د فيضان آن لائن اکيډمۍ په ذريعه تقريباً 24 زره زنانه او نارينه طالبِ علمان دِيني تعليم حاصلوي ❀ اوسه پورې تقريباً **21 دار الافتاء اهلِسُنَّت** جوړ کړے شوي دي په کومو کښې چې د شرعي رهنمائيو شميره د مياشتې اوسطاً **20 زره** ده ❀ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** په ذريعه په دِيني لټريچر باندې تحقيقي کار کولے شي، اَلْحَمْدُلِلّٰه!

---

1...شُعَبُ الْاِيمان، جلد:3، صفحه:212، حديث:3347-
2... معجم کبير، جلد:6، صفحه:440، حديث:13508-
3... معجم کبير، جلد:6، صفحه:440، حديث:13508-
4...تاريخ بغداد، جلد:8، صفحه:204-

د دې شعبې لاندې اوسه پورې پهٔ **1784 کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے، پهٔ دې شعبه کښې ګڼ شمیر مَدَني علمائے کرام فریضې ترسره کوي د **الله** پاک پهٔ کرم باندې دعوتِ اِسلامي هُغه مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي ❀ د دِیني لټریچر د چاپ کولو د پاره دعوتِ اسلامي خپله یوه چاپ کوونکې اداره **مکتبة المدینه** جوړه کړې ده، چرته چې پهٔ بهترین او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د رسالو د تقسیمولو (یعني د مختلفو کتابونو او رسالو د مفت تقسیمولو) سلسله هم وي او کتابونه خرڅیږي هم ❀ پهٔ ټوله دُنیا کښې د دِیني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظیمي سیټ اپ دے، د ذیلي حلقې نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُوریٰ پورې پوره نظام جوړ کړے شوے دے، ښار پهٔ ښار، کلي پهٔ کلي ذِمه داران موجود دي ❀ د عاشقانِ رسول تربیت کولے شي او دوئي د دِیني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته لیږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے کیږي او دوئي د فَارِغُ البَال (یعني د کټې پروا کولو نه بغیر) د دِین خدمت کوي ❀ د میډیا مختلف پلیټ فارمز دي، مثلاً ❀ پرنټ میډیا (یعني ماهنامه فیضانِ مدینه کومه چې دا وخت پهٔ **7 ژبو کښې** ډیره چاپ کیدونکې ماهنامه ده پهٔ ذریعه) ❀ سوشل میډیا (مثلاً یوټیوب (***YouTube***)، فیس بک (***Facebook***)، انسټاګرام (***Instagram***) وغیره باندې موجود تقریباً **100 اکاونټس**، پهٔ کومو باندې چې تقریباً **1،64 ملینه** (***Million***) یعني **شپږ کروړه41لاکه**، فالورز (***Followers***) او سبسکرائبرز (***Subscribers***) دي)او د ویوز شمیره بلینزیعني د 100کروړه نه بره تلې ده ❀ د **مدني چینل** اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کډز مَدَني چینل، د مشرانو مَدَني چینل او د عربۍ د ویب چینل پهٔ ذریعه د دِین اِسلام خدمت کولے شي- ❀ د آئي ټي د شعبې له خوا اوسه پورې **32 موبائل ایپلي کیشن** او **40 اِسلامک ویب سائټس** لانچ کړے شوي دي ❀ پهٔ ټوله دُنیا کښې د مسلمانانو د خیر خواهۍ د پاره ایف جي آر ایف شعبه

جوړه کړے شوې ده، د کومې لاندې چې تراوسه پورې ❁ د **30 لاکهه** نه زيات بوټې نال کړے شوي دي ❁ تقريباً د **60 لاکهه** ګسانو امداد شوے دے ❁ د **5 زرو** نه زيات کورونه جوړ کړے شوي دي ❁ د **75 زره** نه زياتې د وينې بيګونه عطيه کړے شوي دي ❁ هيلتهـ کيئر سنټر ته اوسه پورې د **32 زره** نه زيات مريضان راغلي دي-

د دې ټولو او د نورو دِيني کارونو جاري ساتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي په کروړونو روپو خرچې دي، د دې خرچو پوره کولو د پاره اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! په دريم نومبر کيدونکے دے: **ټيلي تهون**، د کوم يو يونټ چې پاکستاني 10زره روپۍ دے- تاسو هم د دِين د خدمت په دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! د ټيلي تهون په ذريعه خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر جائز، دِيني، اصلاحي، د خير ښيګړې، روحاني او د نيکو په کارونو کښې لګيدے شي- د پاره د دې چې ورځ په ورځ زياتيدونکي اخراجات پوره کړے شي.

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یااللہ مری جھولی بھر دے

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## دُعائے عطّار

څوک چې په ټيلي تهون کښې خپله حصه شامل کړي ،شيخ طريقت،اميراهلسنت دامت برکاتهم العاليه هغه ته دعاګاني هُم کړي دي -هغوي دعاکوي:اےرب مصطفي!په3نومبر2024باندي چې د دعوت اسلامي ديني کارونو د فنډجمع کولو په سلسله کښې چې کوم ټيلي تهون کيږي،يا **الله** پاکه په دغې کښې يا د اوس نه چې څوک خپله حصه شامله کړي کم څه کم يو يونټ جمع کړي(کوم چې 10زره

روپےدے)یا چاله د دي ترغيب ورکړي یا د دي دپاره منده تره ووښي-اے **الله** پاکه!د دي نه مخکښي هغه له مرګ مه راولي ترکومه پوري چي ئي ستا د حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوب کښي زيارت نه وي کړےاود هغه سره د موراو پلاره مغفرت نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: يوه ورځ د الله پاک پۀ لار کښې

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآن او د سُنَّت خدمت کولو، د دِينِ اِسلام د خورولو، د سُنَّتو عام کولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **يوه ورځ د الله پاک پۀ لار کښې** هم دے-

❁ **د اوسني وخت عظيم او روحاني شخصيت** اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ مونږ له دا مَدَني مقصد راکړے دے چې "**ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي-**" اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم!

❁ **د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول** د دې مَدَني مقصد پوره کولو د پاره بانډو، د ښار طرفونو او د ښار داسې علاقې چرته چې ديني کار کمزورے وي هلته ځي او د نيکۍ دعوت عام کوي ❁ پۀ هره يوه ورځ خصوصاً د جُمعې/اتور پۀ ورځ اِسلامي ورونړه دغه علاقو ته ځي ❁ هلته پۀ جومات کښې نفل اعتکاف کولے شي ❁ د نيکۍ دعوت عام کولے شي ❁ تاسو هم تشريف راوړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! ❁ د عِلمِ دِين زده کولو موقع به درته ميلاويږي ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو ثواب به درنصيب کيږي ❁ د **الله** پاک پۀ لاره کښې به د وتو سعادت درنصيب کيږي ❁ د **حديثِ پاک** خُلاصه ده: پۀ کوم قدم

باندې چې د **اللّٰه** پاک په لار کښې دوړه پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي [1] ❁ کوم کَس چې د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو ورونو خوا له د ښار طرفونو ته لاړ شي، په **حديثِ پاک** کښې د هغه د پاره د جنّت زيرے راغلے دے۔ [2]

## مونږ خو بَس د دعوتِ اِسلامي شو

يو اِسلامي ورور وائي چې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د عامو ځلمو په شان په غفلت کښې ژوند تيرولو، سندرې سازونه اوريدل زما د خوښې کارونه وو د کومو د پاره چې ما يو ريډيو هم اخستے وو، زما بخت ښۀ داسې رابيدار شو چې يوه ورځ زمونږ علاقې ته يو څو اِسلامي ورونه يوه ورځ د **اللّٰه** پاک په لار کښې د تيرولو د پاره راغلل، په هغوئي کښې يو اِسلامي ورور ما ته په دې ديني کار کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، لهٰذا زۀ هم د يو څو دوستانو سره د هغوئي سره شامل شوم، د واپس راتللو په وخت يو اِسلامي ورور مونږ ته د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو نو مونږ عرض وکړو: که ياد وو راته نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ضرور به شرکت کوو۔

بهر حال مونږ په اجتماع کښې شرکت وکړو، هلته هم د ډېرو اِسلامي ورور سره ملاقات وشو چا چې مونږ ته د اجتماع دعوت راکړے وو، هغۀ دومره په ښو اخلاقو ميلاؤ شو چې بس مونږ خو د دعوتِ اسلامي شو۔ زما خو چې لکه د ژوند انداز بدل شو، د نـمونځونو پابندي مې نصيب شوه، د سندرو ځائے نعت شريف واخستو، مخ مې په ګيره ښائسته کړو او عمامه مې په سر کړه او داسې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راغلم۔

عطائے حبیبِ خدا دینی ماحول
تُو داڑھی بڑھا لے عمامہ سجا لے

ہے فَیضانِ غوث و رضا دینی ماحول
نہیں ہے یہ ہر گز بُرا دینی ماحول

[1]... مسند امام احمد، جلد:6، صفحہ:507، حدیث:16356 خلاصۃً۔
[2]... معجم اوسط، جلد:1، صفحہ:472، حدیث:1743۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني چينل (Madani Channel)

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د جديد ټيکنالوجۍ پهٔ ذريعه هم پهٔ مختلف انداز کښې د نيکۍ دعوت پهٔ عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ د عاشقانِ رسول د آسانۍ د پاره يو ډير ښکلے او فائده مند موبائل ايپلي کيشن د مَدَني چينل ***(Madani Channel)*** پهٔ نوم جوړ کړے دے ❀ د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه تاسو د مَدَني چينل مختصر تعارف او پهٔ مَدَني چينل د نشر کيدونکو پروګرامونو شيډول معلومولے شئ ❀ د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه پهٔ مَدَني چينل باندې د چليدونکو مفتيانِ کرامو او مبلغينو ډير ښکلي معلوماتي پروګرامونه کتلے کيدے او اوريدلے کيدے شي ❀ د دې ايپلي کيشن لوئې خاصيت دا دے چې اوس د اُردو سره سره پهٔ انګلش او بنګله ژبه کښې هم د عِلمِ دين فيضان عام کولے شي او ❀ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې د مَدَني چينل لائيو ويډيو سټريمنګ (***live video streaming***) کتلو سره سره د ريډيو فيچر پهٔ ذريعه آډيو هم اوريدلے کيدے شي ❀ پهٔ ريډيو چينل باندې ❀ د قرآن پاک تلاوت ❀ د قرآنِ پاک ترجمه ❀ مَدَني مذاکره ❀ فرض علوم ❀ نعتونه او ❀ اِسلامي بيانونه وغيره هم اوريدلے کيدے شي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو هفته

واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځۀ نه پس اته نيمې بجےپۀ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د الله پاک نه د ويريدونکو نـمونځ اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئ دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ صدقه ورکول داسې عمل دے د کوم سره چې ډير مشکلات حل کيږي، بيمارياني لرې کيږي، دعاګانې قبليږي او د ټولو نه غټه خبره دا ده چې د الله پاک او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا حاصليږي- د صدقې کولو د ذِهن حاصلولو او پۀ دې باره کښې د مسئلو د معلوماتو د پاره د مکـتبة الـمدينه رساله صدقے کا انعام د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پۀ 55 روپے پۀ بيعه حاصل کړئ، دا کتاب پخپله هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ! ❁ د ربيع الثاني مبارکې مياشتې په نسبت سره مجلسِ تقسيمِ رسائل وړاندې کوي: فيضانِ غوثيه پيکج- دا پيکج هم د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پۀ 200 روپے پۀ بيعه حاصل کړئ!

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو

ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "پهٔ کور والؤ باندې خرچ کول" د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1):** د قيامت پهٔ ورځ باندې به د عمل پهٔ تَله باندې د ټولو نه وړومبے د بنده پهٔ خپل کور والؤ باندې خرچ کړے شوے مال کيښودے شي- (2) (2): څوک چې د ثواب پهٔ نيت باندې پهٔ خپل کور والؤ باندې خرچ وکړي نو دا د هغهٔ د پاره صدقه ده- (3)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پهٔ کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ خپل کور والؤ باندې خرچ کولو ❁ د **حديثِ پاک** مطابق د هجرت نه پس يو وخت داسې هم راغلو چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل کور والؤ د پاره د ټول کال غَلّه جمع کوله- (4)

د دې **حديثِ پاک** لاندې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343-
2... معجم الاوسط، جلد:4، صفحہ:329، حدیث:6135-
3... مسلم، کتاب:الزکاۃ، صفحہ:502، حدیث:1002-
4... احیاء العلوم، کتاب:توحید، جلد:4، صفحہ:343-

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کومه شرح بيان کړې ده، د هغې خُلاصه دا ده چې دا يعنې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال د پاره غَلّه جمع کول، د بنو نُضَير د قلعې فتح کولو نه پس خبره ده- دا هم ياد ساتئ چې حضور، جانِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اکثر چې د ټول کاله غَلّه جمع کوله خو د اُمَّت پاکو مئيندو رَضِيَ اللهُ عَنْهُن به پۀ کثرت سره صدقه او خيرات کولو، د ټول کال غَلّه به زر ختميدله او نوبت به لوږو ته رسيدلو- (1)

بھوکے رہتے تھے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابِر تھے مُحَمَّد کے گھرانے والے

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال غَلّه جمع کول دې د پاره دي چې دا عمل د اُمَّت پۀ حق کښې سُنَّت جوړ شي، ګني د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور والا د کمزورې زړۀ والا نۀ وو (بلکې هغوئې پۀ **الله** پاک باندې کامِل باور لرونکې وو)- (2)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خدا
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم
چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (3)

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1...مرآۃ المناجیح، جلد:5، صفحہ:949۔
2...احیاء العلوم، کتاب:توحید، جلد:4، صفحہ:343۔
3...وسائل بخشش، صفحہ:669۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

---

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ آنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵